بسم الله الرحمن الرحیم

# په تراویحو کې ختم او د ختم دعاء

د مسلمانانو په ټولنو کی د پخوا راهیسې د رمضان په میاشت کی په تراویحو لمونځ کې د قران کریم ختمونه کیږي ، ځینې یې په یوه اونی کی ختم کوي ، ځینی یی په لسو ورځو کې او ځینې یې په دري یا څلورو کې ، څوک یی په زیاتو کی کوي او څوک یی په کمو کی ، او بیا لا ځینې قاریان صاحبان داسی قراءت کوي چی یوه کلمه د بلې څخه نه جدا کوي او اوریدونکي یې هیڅ تمیز نشي کولای چې قاری صاحب څه وویل او په کوم سورت کی روان دی ؟ او ځینې قاریان صاحبان خو لا داسی وي چې جوماتونه یې د مخکې نه په ټیکه نیولي وي ، چا یو جومات په ټیکه نیولی وي ، چا دوه ، چا دری ، او د مخکی نه یی ورسره خبره کړی وي چی ما له به دومره اړه راکوی ، او قاری صیب ته هم د مخکی نه د خپل دخل معلومات وي چی رمضان میاشت کی زما څومره امدن دی ،

او بیا په تراویحو لمونځ کی د سنت طریقی د قراءت لحاظ نه ساتل کیږي خو مقصد پکی صرف ختم کول او مزدوري ترلاسه کول او په ډیرو جوماتونو د ختم دپاره ګرځیدل وي ، او بیا د ختم په شپه غټ غټ پروګرامونه نیول شوی وي ، د خوراک څښاک توکی ډیر لیدل کیږی او په لوډ سپیکرو د هغی د پاره په مختلفو جوماتونو کی اعلانونه کیږی او د عرس او واده شپه یی تر جوړه کړی وي .

نو پدی کی شک نشته چې داسی ختمونه کول هیڅ شرعي حیثیت نلري او ثواب پری نه حاصلیږی ، دا نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت دی ، او نه د صحابه کرامونه ثابت دی ، بلکی په دغسی ختمونو او دغسی زر زر په تیزی سره لوستلو د قران کریم توهین دی چه مقصد صرف ختم وي او تدبراو تفکر پکی نه وي ، او لا قاریان صاحبان د عوامو لخوا د ریشخند سبب هم وګرځی او خلک ورپوری ټوکی او مسخری کوی .

او په دې ټولو کی زمونږ د سلفیانو په ټولنه کې ختم لا په ښه شکل کیږي چی په یوه شپه کی صرف یوه سپاره ویل کیږي او ښه په ارام او ترتیل سره لوستل کیږي ، مګر په اخر کی د ختم په شپه بیا هم داسی جمع او جوش وی چی په بله شپه نه وي ، او خلک کوښښ کوي چی په دعاء کی شریک شي ، او په دعاء باندی ځانګړی اهتمام وي ، او د لیری لیری ځایونو څخه خلک راغلی وي ، او هر جومات کی چی ختم وي په هغی ته ځان رسوي .

مګر د شریعت د لحاظه دغه عمل هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت نه دی او نه د صحابه کرامو څخه ثابت دی ، بلکه دغسی عمل ډیر وروسته په مسلمانانو کی رائج شویدی ، صحابه کرامو په ختم هیڅ اهتمام نه ؤ ، بلکه په اوږدو ترایحو به یی تمرکز کاوه چی اوږدی اوږدی تراویح وکړي او ډیر قران کریم پکی ولولي او دغه یی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه زده کړی ؤ .

او چی ختم تری ثابت نه دی نو د ختم دعاء تری هم ثابته نده او په هغی باندی اهتمام تری هم ندی راغلی .

یواځې د انس رضی الله عنه نه ثابته دي چې هغه به د ختم په وخت د [illegible] راغونډول او دعاء به یی وکړه . خو دا د لمونځ نه بهر ، په لمونځ کې نه او په لمونځ کې د ختم ثبوت نشته او د ختم دعاء هم نشته اګر که ځینو علماءو ورته مستحب ویلی دي خو مرفوع حدیثواو د صحابه کرامو په اثارو کی نشته .

نو که په تراویحو کی هیڅ ختم ونکړي نو هیڅ پروا نه کوي ، صرف کوښښ به وکړي چی تراویحو کی اوږد قراءت ووایي ، او که چا ختم وکړ او د ختم دعاء یی ونکړه نو هم هیڅ پروا نه کوي او لا شیخ ابن عثیمین رحمه الله وایي چی پرېښودل یی غوره دي .

نو د ختم په دعاء غټ اهتمام کول او هغه لپاره اعلانونه کول او یو بل ته ټلیفونونه کول او هلته خوراکي توکي راوړل او جمع جوش ، بنډار او واده تری جوړول سنت عمل ندی .

**مقاله لیکونکی : فضیلة الشیخ عتیق الله حنیف**

**تاریخ : 28 / رمضان / 1443**

Ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**